Afghanistan National Agricultural
Sciences & Technology University
د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژی ملي
پوهنتون
د علمی څېړنو معاونیت
د تحقیقاتی فارم آمریت
د لابراتوار مدیریت

# دلابراتوار مدیریت

## د لابراتوار پیژندنه:

د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون لابراتوار د هیواد په کچه د پرمختللو لابراتوارونو له جملي څخه دی چي کولای سي د خپلو عصري ماشین الاتو، کیمیاوي موادو، مجربو استادانو او تکنیشنانو په مرسته د خاوري، اوبو او نبات عملي تجربي ترسره کړي.

د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون د لابراتوار تر جوړېدو مخکي د تکنیشنانو او کارکوونکو د علمي کچي لوړولو په موخه د خاوري، اوبو او نبات عملي تجربي د هیواد څخه بهر سرته رسېدلې، او په دې برخه کې یې اړیني زده کړې ترسره کولی. دا چې په هیواد او ملي پوهنتون کې د مجهزو لابراتوارونو د جوړېدو اړتیا ډېره احساسېدله, چې د پوهنتون د رهبری او پلان سره سم د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون کي د یوه عصري لابراتوار د جوړېدو کار په ۱۳۹۵ ه ش کال کي د افغان دولت او هندوستان هیواد په مالي مرسته پیل او په ه ش ۱۳۹۷ کال کي ئي د جوړېدو چاري پای ته ورسېدلې او ګټي اخیستني ته اماده سو. چی اوس مهال محصلین او تحقیق کونکي کولای سي د لابراتوار د عملي کړنو په مرسته ځانونه یوې مثبتی پایلي ته ورسوي تر څو د خاوري مختلیف ډولونه او په مختلیفو خاورو کي د نبات رشد مطالعه کړي.

## فعالیتونه او عمده لاسته راوړني:

- ☐ منظم او فعاله لابراتوار
- ☐ فعاله او مسلکی تکنیشنان
- ☐ سندرډ او معیاری ماشین الات درلودل

## لرلید Vision

د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون مرکزي لابراتور به د افغانستان په کچه یونمونه لابراتوار وي تر څو وتولني ته داسي مسلکی کادرونه په عملی برخه کښي وروزي، چي د هیواد د معیارونو سره برابر خدمت وړاندي کړي.

## رسالت Mission

د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون مرکزي لابراتوار د علمي نوښتونو، اقتصادي پرمختیا او تولنیز پرمختګ لپاره لابراتوار دی په عملي برخه کی هڅه کوي څو د تولني د سوکالي تمرکز په علمي او موثرو تجربو باندي وکړي.

## هدفونه Goals

د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون د لابراتوار څانګه د مجهز او عصري ماشین الاتو په درلودلو سره غواړي د څېړنو لمن پراخه او په دې توګه د ملي اقتصاد په پیاوړتیا کي رغنده رول و لوبوي.



## د پوهنتون پیژندنه:

د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژي ملي پوهنتون (اناستو) چې په ۱۳۹۱ کې تأسیس شوی دی، د لیسانس په کچه د څلورو پوهنځیو، (۱۷) څانګو او د فوق الیسانس (ماسټري) په کچه په دریو پوهنځیو او نهه څانګو کې فعالیت لري. د هیواد په کچه یوازینی کرنیز تخصصي پوهنتون دي او موخه یي ده چې یاد پوهنتون د سیمې او هیواد په کچه به د کرهني او مالدارۍ په برخه کې یو پرمختللی څیړنیز، ترویجي او تولیدي مرکز وي، ترڅو په هیواد کې د کرهنې او مالدارۍ په برخو کې شته ستونزې حل کړای شي.

**زموږ سره اړیکه:**


0700020207

Wali.sadiqi30@gmail.com

اوسنی ادرس: سپین بولدک لویه لار، ډنډ ولسوالي، کندهار افغانستان


# د لابراتوار مدیریت تشکیلاتی چارټ




